## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**9عقرب_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


حقاني: مهاجرین دې د کوربه هېوادونو اصولو او قوانیونو ته درناوی ولري ---------------------------------------1
وزیر امور مهاجرین به ولایت لوگر سفر نمود ----------------------------------------------------------------1
حقاني: کډوال دې د کوربه هېوادونو د اصولو او قوانیونو مطابق چلند وکړي ----------------------------------------2
نشستی پیرامون انتقال بیجاشده گان، در وزارت امور مهاجرین برگزار شد -------------------------------------------3
یک تیم تخنیکی به ریاست رییس انسجام امور موسسات به ولایت خوست سفر کرد---------------------------------4
پروان کې له لسګونه کورنیو سره نغدي مرسته وشوه. -----------------------------------------------------------5
د اروپا پر پولو د تاوتریخوالي او د کډوالو د په شا تمبولو عادي کېږد --------------------------------------------5
حزب لیبرال های آزاد آلمان در تلاش توقف کمک های مالی به امدادگران خصوصی دریایی است---------------------8
در نتیجه واژگونی یک قایق در سواحل لیبیا ۱۲ مهاجر جان های شان را از دست دادند ---------------------------10

# متن کامل اخبار

## حقاني: مهاجرین دې د کوربه هېوادونو اصولو او قوانیونو ته درناوی ولري

د وزارت ویب سایت




د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمان حقاني لوګر ولایت کې ۷۰ کورنیو ته د بشري مرستو د ویش پرمهال له رسنیو سره په خبرو کې له افغان مهاجرینو وغوښتل، چې د کوربه هېوادونو اصولو او قوانیونو ته درناوی وکړي او له داسې کړنو ځان وژغوري، چې له امله یې ټولو مهاجرینو ته ستونزې جوړېږي
نوموړي زیاته کړه، دا چې په افغانستان کې اسلامي نظام حاکم او سرتاسري امنیت تامین دی، نو ټول مهاجرین باید نور پخپله خوښه هېواد ته راستانه شي
د یادونې وړ ده، چې په دغه سفر کې ښاغلي حقاني د لوګر ولایت د شهیدانو شپږو کورنیو ته د افغانستان اسلامي امارت له لورې مرسته شوې درې سوه زره افغانۍ نغدي مرستې وسپارلې او په نږدې اویا کورنیو یې د چین بشري مرستې، کمپلې او خیمې وویشلې او نغدې مرستې یې ورسره وکړې

## وزیر امور مهاجرین به ولایت لوگر سفر نمود

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**الحاج خلیل الرحمن حقانی، وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، در یک سفر رسمی به ولایت لوگر سفر نمود.
در این سفر محترم حقانی با مولوی ضیاء الرحمن مدنی والی و مولوی محمد الدین شاه فرمانده امنیه آن ولایت دیدار های جدا گانه داشت.
در این دیدارها روی موضوع مشکلات برگشت کننده ها و بیجاشده ها، اسکان مجدد آنان، تامین امنیت، حمایت اقتصادی و عرضه خدمات در بخش ها ی مختلف به آنان در آن ولایت بحث و گفتگو شد.**

## حقاني: کډوال دې د کوربه هېوادونو د اصولو او قوانيونو مطابق ژوند وکړي

آژانس اطلاعاتی باختر



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست خليل الرحمن حقاني لوګر ولايت کې ۷۰ کورنيو ته د بشري مرستو د وېش پرمهال له رسنيو سره په خبرو کې له افغان کډوالو غوښتنه وکړه، چې د کوربه هېوادونو اصولو او قوانيونو ته درناوی وکړي او داسې کړنې تر سره نه کړي، چې له کبله يې ټولو کډوالو ته ستونزې جوړې شي.**

**هغه زياته کړه، دا چې په افغانستان کې اسلامي نظام حاکم او سرتاسري امنيت تامين دی، نو ټول کډوال بايد پخپله خوښه هېواد ته راستانه شي**

**د يادونې وړ ده، چې نوموړي په دغه سفر کې د لوګر ولايت د شهيدانو شپږو کورنيو ته د افغانستان اسلامي امارت له لوري مرسته شوې درې درې سوه زره افغانۍ نغدي مرستې وسپارلې او په نږدې اويا کورنيو يې د چين بشري مرستې، چې کمپلې او خيمې په کې شاملې وې ووېشلې او نغدي مرستې يې هم ورسره وکړې.**

## نشستی پیرامون انتقال بیجاشده گان، در وزارت امور مهاجرین برگزار شد

ویب سایت وزارت



**نشست تیم های تخنیکی پیرامون انتقال بیجاشده ها از شهر کابل به محلات اصلی شان در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان بر ریاست مولوی سردار شیرزاد رییس رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان داخلی وزارت برگزار شد.**
**آقای شیرزاد با بیان متعهد بودن بر اهداف مشترک این وزارت با همکاران ملی و بین المللی در قبال خدمت به بشریت و بیجاشده ها بر انتقال خانواده های بیجاشده به محلات اصلی شان تاکید بیشتر ورزیده و از همکاری این وزارت با تشریک مساعی ادارات ذیربط حکومتی اطمینان داد.**
**خانم فرحانه مسوول دریافت راه حل های دایمی سازمان ملل متحد از فعالیت و کارکرد آن سازمان برای خانواده های برگشت کننده و بیجاشده معلومات داده از ارقام خانواد ها ی بیجاشده در ولسوالی های کشور نیز به نشست تفصیلات بیشتری را ارایه کرد.**
**وی بر دریافت را ه های حل دایم، اشتغال زایی، ایجاد مراکز صحی و آموزشی، شبکه های آب صحی، و سرپناه دایمی برای خانواده های که انتقال خواهند یافت تاکید نمود.**

## یک تیم تخنیکی به ریاست رییس انسجام امور موسسات به ولایت خوست سفر کرد

ویب سایت وزارت



یک تیم تخنیکی شامل 12 تن از نماینده های ریاست ها ی مرکزی وزارت بر ریاست شیخ عبدالرحمن رحمانی، رییس امور انسجام موسسات، جهت بررسی مشکلات به ولایت خوست سفر نمودند.
آقای رحمانی در این سفر از ریاست مهاجرین ولایت خوست دیدارنموده و هدف سفر را بررسی کارها، مشکلات و نیازها به آن ولایت بیان داشت.
وی همچنان بر صداقت، اخلاص و پابندی بر وظایف برای کارمندان آن اداره تاکید بیشتر نمود.
شیخ محمد امان، رییس مهاجرین ولایت خوست با ابراز خرسندی از سفرتیم یاد شده به آن ولایت از همکاری خویش اطمینان داد.

## پروان کې له لسګونه کورنیو سره نغدي مرسته وشوه .

د وزارت ویب سایت

د لړم په ۷ مه نېټه پروان ولایت کې له ۵۰ بې ځایه شویو، په زوره راستنو شویو او زیانمنو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه.
دغه کورنۍ د یاد ولایت د مهاجرینو ریاست له لوري له وړاندې سروې شوې وې، چې په دوو برخو کې ۱۹ زره او ۱۶ زره افغانۍ نغدي مرسته د ډنمارک مهاجرت شورا له لوري ورکړل شوه.

## د اروپا پر پولو د تاوتریخوالي او د کډوالو د په شا تمبولو عادي کېږ

مهاجرنیوز




د اروپا پر پولو د تاوتریخوالي او د کډوالو په شا تمبولو ډېرېدونکو پېښو له امله د بلغاریا، پولنډ او قبرس په هېوادونو کې پناه غوښتنه سخته او تقریباً ناممکنه شوې ده .دا په داسې حال کې ده چې د اروپایي ټولنې د قوانینو له مخې له پولو څخه د مهاجرو په شا تمبول منعه دي او هېڅ ډول قانوني بنه نه لري .

کامرونی مهاجر جان څو میاشتې وړاندې د قبرس اګلانتزیا کمپ ته رسېدلی چې د ملګرو ملتونو تر ادارې لاندې دی. دغه کمپ د قبرس په حایله سیمه کې موقعیت لري. هغه د لسګونو نورو افغان، کامروني، سوریایي او سوډاني کډوالو په شان په جنوبي قبرس کې د پناه غوښتنه کړې ده .

یوه کرښه چې ۱۸۰ کیلومتره اوږدوالی لري د قبرس جنوبي برخه، چې د اروپایي ټولنې غړې ده، د دغه ټاپو له شمالي برخې څخه جلا کوي چې د ترکیې تر ادارې لاندې ده.

کډوال نیوز د اګست په پای کې قبرس ته د کاري سفر پر مهال له جان، ساموېل او ابراهیم سره لیدلي وو. جان او ساموېل دوه کاله د قبرس په ترکي برخه کې تېر کړي وو. کله چې دوی د قبرس سوېلي برخې ته ورسېدل، د قبرس یوه اوسېدونکي پولیسو ته خبر ورکړ. هغه وخت جان کډوال نیوز ته ویلي وو: «امنیتي ځواکونه موږ پسې راغلل خو موږ ورته وویل چې غواړو د پناه غوښتنه وکړو. دوی موږ ته اوبه راکړې او دې ځای ته یې انتقال کړو«.

د جان ملګري ابراهیم ویلي وو: «مجبور یې کړو چې کښېنو، وسلې یې درلودې او موږ ته یې ګواښ وکړ چې بېرته شاته وګرځو.» د سوډان دغه اوسېدونکی او ملګري یې له څو ساعته پیاده مزل وروسته حایلې سیمې ته ورسېدل .

یو شمېر کډوالو د اګست په ۱۹مه د دویم ځل لپاره له کرښې څخه د تېرېدو هڅه وکړه ترڅو ځانونه پورانارا مرکز ته ورسوي، خو د امنیتي ځواکونو له خوا په شا وتمبول شول .

افغان کډوال سادات چې تېر اګست په دغه سیمه کې بند پاتې و کډوال نیوز ته ویلي وو «نور نه شي کولی چې خیمه کې ژوند وکړي». هغه څو میاشتې مخکې له خپلې مور او دربو خوېندو سره قبرس ته رسېدلی و. سادات ځکه »له جګړې څخه تښتېدلی» و ترڅو «خوېندې یې ښوونځي ته د تګ اجازه ولري». هغه ویلي وو: «خو اوس دلته ایسار پاتې یو، دا ځای بند ته ورته دی. څوک کولی شي چې په ځنګله کې ژوند وکړي؟«

د بشري حقونو په چارو کې د ملګرو ملتونو د راپور وورکوونکې په وینا، له پولو څخه د کډوالو په شا تمبول د اروپایي قوانینو سره په ټکر کې دي. د پناه غوښتونکو په اړه د ژنېو کنوانسیون د ۳۳ مادې پر اساس، لاسلیک کوونکي هېوادونه اجازه نه لري هغه پناه غوښتونکي چې په سرحدي سیمو کې ایسار پاتې یا یې ازادي له خطر سره مخ دي، په شا وتمبوي .

د پولنډ له پولو څخه د ۹۰۰۰ کډوالو په شا تمبونه

په روانه لسیزه کې زرګونه کډوال چې د نړیوالي ساتنې غوښتنه یې کړې د اروپایي ټولنې پر باندنیو پولو له تاوتریخوالي سره مخ شوي دي. په تېرو څو وختونو کې بیا له سرحدي سیمو څخه، په ځانګړې توګه د قبرس او پولنډ پر پولو، د کډوالو په شا تمبول خپل اوج ته رسېدلی دی.

د وام په نوم سازمان چې د بېلاروس پر پوله د کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښې ثبتوي وایي چې د ۲۰۲۲ د دېسمبر څخه د ۲۰۲۴ تر جولای پورې شاوخوا ۹۰۰۰ کډوال د پولنډ له پولو څخه په شا تمبول شوي دي .

د ګروپا ګرانیکا ویاند بارتیک رومینزیک ویاند د روان کال په جولای میاشت کې کډوال نیوز ته ویلي وو چې ۶۶ تنه چې مېندوارې ښځې او ماشومان هم پکې شامل وو په زوره بېلاروس ته استول شوي دي. د هغه په خبره، دا یو بل ثبوت دی چې ښیي پر پوله د کډوالو د پناه غوښتنې حق ته پاملرنه نه کېږي .

همدارنګه په یو راپور کې چې د جولای په ۱۸ لیتوانیا، لتوانیا، پولنډ او بېلاروس کې د فعالو بشري حقونو د سازمانونو له خوا خپور شوی راغلي دي چې د ۲۰۲۱ له پسرلي څخه د ۲۰۲۴ تر مارچ میاشتې پورې لږترلږه ۱۱۶ کډوالو د بېلاروس پر پوله خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. په دغو مهاجرو کې لږترلږه ۱۱ افغانان هم شامل وو .

په راپور کې ویل شوي دي چې له پولو څخه په شا تمبول شوي کډوال دې ته اړ شوي چې په ځنګلي سیمو کې زیات وخت تېر کړي. ډېریو دغو کډوالو د ستړیا او یا سړې هوا له امله خپل ژوند بایللی دی. د راپور له مخې، یو شمېر مړي په سېندونو کې موندل شوي او ځینې کډوال هم له پولیسو څخه د تېښتې پر مهال او یا د ترافیکي پېښو له امله وژل شوي دي .

سربېره پر دې، د پولنډ پارلمان د روان کال په جولای کې یو نوی قانون تصویب کړ چې چې له مخې یې پولنډي ځواکونه کولی شي له بېلاروس سره پر پوله د «مشروع دفاع» په صورت کې او یا د «مخنیوونکي اقدام» په توګه پر کډوالو ډزې وکړي.

»شپږ ځله مې هڅه وکړه چې بلغاریا ته واوړم، خو پولیسو هر وار وشړلم«

همدا حالت د بلغاریا پر پولو هم روان دی .

افغان کډوال سهراب د روان کال په جولای میاشت کې د بلغاریا په وونا رامپا کمپ کې ژوند کاوه. سهراب په ۲۰۲۲ کال کې د ترکیې له لارې د بلغاریا خاورې ته داخل شوی و، خو امنیتي ځواکونو ونیوه او بندي خانې ته یې واچاوه. هغه د خپل ژوند د دغو

سختو شېبو په اړه کډوال نیوز ته ویلي وو: « تر ۲۰ زیات کسان په یوه کوټه کې ساتل کېدل او لومړنیو اسانتیاوو ته یې لاسرسی نه درلود. ما ته یوازې دوه لارې را پاتې وې: دا چې په بلغاریا کې پناه وغواړم او له زندان څخه ووځم، او یا څو میاشتې زندان کې تېرې کړم«.

سهراب چې ۱۴ ورځې یې د بندي خانې په سختو شرایطو کې تېرې کړې، له مجبورۍ څخه د پناه غوښتنه وکړه او د کډوالو پرانیستي کمپ اوچا کوپل ته واستول شو. هغه ویلي وو: «په کمپ کې د ژوندانه شرایط ډېر سخت وو. هلته مې تر خپله وسه ګذاره وکړه او بیا مې د صربستان، کرواسي او ایتالیا له لارې ځان سویس ته ورساوه.» خو سویسي چارواکو یې غوښتنه ونه منله او د ډوبلین د مقرراتو پر اساس یې بېرته بلغاریا ته واستاوه.

عثمان یو بل کډوال و چې بلغاریا ته د داخلېدو پر مهال د امنیتي ځواکونو له تاوتریخجن چلند سره مخ شوی و .

دغه سوریایي کډوال په جون میاشت کې کډوال نیوز ته ویلي وو: «شپږ ځله مې هڅه وکړه چې بلغاریا ته واوړم، خو پولیسو هر وار وشړلم.» هغه دا هم ویلي وو چې امنیتي ځواکونو یې شخصي توکي نیولي او څلور ځله یې کالي ایستلي دي. یو وار هم د پولیسو سپي د عثمان ملګری ټپي کړی و .

پر غړو هېوادونو د کمیسون نفوذ کم شوی؟

خو د اروپا پر باندنیو پولو د کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه پر د بېلابېلو راپورونو سره سره ولې دغه حالت لا هم روان دی؟

د سنېرژي میګراسیون مدیر او د کډوالی چارو کارپوه ماتیو تردي د اروپایي ټولنې نه پاملرنه د تاوتریخوالي د تکرار سبب ګرځي: «څو کاله مخکې اروپایي کمیسیون چې اروپایي ټولنه کې د پناه غوښتنې د قواعدو ضمانت کوونکی ارګان دی، دغه اقدامات غندلي وو، خو اوس داسې ښکاري چې پر غړو هېوادونو یې نفوذ کم شوی دی«.

سربېره پر دې، یو شمېر هېوادونه پټ اقدامات کوي او پر پوله یې امنیتي خنډونه زیات کړي دي .

وروستۍ ټکی دا دی چې له پولو څخه د کډوالو د په شا تمبولو په اړه بروکسل د پخوا په شان څرګند او غوڅ دریځ نه لري او د اروپایي ټولنې په نوې موافقه کې هم پر پوله د قبولۍ د ترلاسه کولو شرایط سخت شوي دي .

## حزب لیبرال های آزاد آلمان در تلاش توقف کمک های مالی به امدادگران خصوصی دریایی است

مهاجرنیوز




**حزب ائتلافی لیبرال های آزاد (اف دی پی)، به پایان دادن حمایت دولتی از امداد گران غیردولتی در بحر فشار می‌آورد. بنابرین عملیات نجات دریایی از وظایف اولی و مهم اتحادیه اروپا است نه تنها آلمان.**

**ماری آگنس استراک سیمرمان، رئیس هئیت نمایندگی حزب (اف دی پی) در پارلمان اتحادیه اروپا، به روزنامه آلمانی"هندلسبلات" گفت: «بررسی تخصیص کمک های مالی از سوی وزارت خارجه به خدمات امدادگران خصوصی کاملاً مناسب است.» او تأکید کرد که عملیات نجات دریایی از وظایف اولی و مهم اتحادیه اروپا است.**

**علاوه بر این، استراک سیمرمان گفت که در سال جاری "به وضوح" تعداد کمتری از مهاجران از مسیر مرکزی مدیترانه آمده‌اند. ولفگانگ کوبیکی، معاون رئیس حزب لیبرال های آزاد (اف دی پی)، نیز در رسانه "هندلزبلات" خواستار قطع حمایت سازمان های نجات خصوصی "برای آینده" شد. او ابراز تعجب کرد که وزارت خارجه در این مسئله به اظهارات اولاف شولتس، صدراعظم آلمان "بی‌توجهی می‌کند." شولتس یک سال پیش از تأمین مالی این سازمان های خصوصی نجات فاصله گرفت و اشاره کرد که کمک های مالی تصویب شده از سوی بوندستاگ یا پارلمان آلمان، از جانب حکومت فدرال درخواست نشده‌اند. اما وزارت خارجه تحت رهبری انالنا بئربوک اعلام کرد که این کمک ها طبق تصمیم پارلمان تا سال ۲۰۲۶ در دسترس خواهند بود.**

**فرانک شافلر، سیاستمدار بخش مالی حزب (اف دی پی)، به "هندلزبلات" گفته است» :وزارت خارجه به این ترتیب امنیت مرزهای خارجی اتحادیه اروپا را تضعیف می‌کند.» او وزارت خارجه را به "سیاست خودخواهانه که فشارش اش بردوش ایتالیا است" متهم کرد و افزود: «اینکه این مسئله در آنجا (ایتالیا) موجب نارضایتی می‌شود، کاملاً مشخص است«.**

**حمایت مالی از امدادگران خصوصی در بحر مدتهاست که باعث بروز اختلافات زیادی بین آلمان و ایتالیا شده است، که یکی از کشورهای اصلی پذیرش مهاجران از مسیر مدیترانه است .**

جورجیا ملونی، نخست‌وزیر راستگرای افراطی ایتالیا، سال گذشته در نامه‌ای به شولتس درباره کمک های مالی آلمان به سازمان های نجات مهاجران در بحر ابراز نارضایتی کرده بود.

## در نتیجه واژگونی یک قایق در سواحل لیبیا ۱۲ مهاجر جان های شان را از دست دادند

مهاجرنیوز



یک قایق که ۱۳ مهاجر مصری را به سمت اروپا حمل می‌کرد، طبق اعلام مقامات محلی و یک گروه لیبیایی، در سواحل لیبیا واژگون شده و همه سرنشینان آن به جز یک نفر جان های خود را از دست دادنده اند.

گروه "العبری" که به مهاجران در لیبیا کمک‌های انسانی ارائه می‌دهد، در فیس‌بوک گفت که این قایق شامگاه دوشنبه در ۶۰ کیلومتری (۳۷ مایلی) شرق شهر طبرق واژگون شده است. به گفته این گروه، یک مهاجر نجات یافته و اجساد به ساحل منتقل شده‌اند.

مدیریت مبارزه با مهاجرت غیرقانونی در طبرق نیز وقوع این حادثه را تأیید کرد.

در سال‌های اخیر، این کشور شمال افریقا به نقطه عبور اصلی مهاجرانی تبدیل شده است که به دلیل جنگ و فقر از افریقا و خاورمیانه فرار می‌کنند.

ماه گذشته، طبق اعلام مقامات لیبیایی، یک قایق مهاجران که ۳۲ نفر را حمل می‌کرد به دلیل خرابی ماشین اش در سواحل لیبیا واژگون شد که منجر به مرگ یک نفر و مفقود شدن ۲۲ نفر دیگر شد. گارد ساحلی در طبرق گفت که نه نفر نجات یافته‌اند. گروه العبری گفت که این قایق به سمت اروپا در حرکت بوده و مهاجرانی از مصر و سوریه را حمل می‌کرده است.

قاچاقچیان انسان از مدت‌ها پیش از بی‌ثباتی در لیبیا که پس از قیام تحت حمایت ناتو در سال ۲۰۱۱ که معمرالقذافی، رهبر سابق، را سرنگون و به قتل رساند، بهره‌برداری می کنند و قاچاق انسان نیز از این مسیر شدت گرفته است.

**قاچاقچیان مهاجران را در قایق‌های شلوغ و نامناسب تجهیز شده، در سفرهای خطرناک دریایی از مرزهای این کشور شمال افریقایی که با شش کشور مشترک است، منتقل می‌کنند.**

**طبق اعلام سازمان بین‌المللی مهاجرت، سال گذشته ۹۶۲ مهاجر در سواحل لیبیا جان خود را از دست دادند و ۱ هزار و ۵۶۳ نفر مفقود شدند**. این سازمان همچنین گفت که حدود ۱۷ هزار و ۲۰۰ مهاجر در سال ۲۰۲۳ راهگیری و به لیبیا بازگردانده شده‌اند.

خبرنامه